السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# په تاسو کې هېڅوک نشته مګر دا چې الله به ورسره خبرې وکړي، په داسې حال کې چې د هغه او د ده ترمنځ به هېڅ ترجمان نه وي

له عدي بن حاتم رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «په تاسو کې هېڅوک نشته مګر دا چې الله به ورسره خبرې وکړي، په داسې حال کې چې د هغه او د ده ترمنځ به هېڅ ترجمان نه وي، نو خپل ښي طرف ته به وګوري، يوازې هغه څه به وګوري چې وړاندې کړي يې دي، او بل (چپ) طرف ته به وګوري او يوازې هغه څه به يې تر سترګو شي چې وړاندې کړي يې دي، او مخامخ به وګوري نو يوازې اور به يې مخ ته وي، نو له اور څخه ځان وژغورئ که څه هم په نيمه خرما سره وي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې هر مؤمن به د قيامت په ورځ خامخا د الله په وړاندې يوازې ودرېږي او دا چې الله تعالی به ورسره له واسطې پرته خبرې وکړي، په داسې حال کې چې د دواړو تر منځه به کوم ژباړونکی نه وي چې خبرې وژباړي، نو له ډېرې وېرې به ښي او چپ اړخ ته وګوري چې کېدی شي له هغه اور څخه د خلاصون يوه لار ومومي چې مخې ته يې دی. نو کله چې خپل ښي خوا ته وګوري، يوازې هغه نيک عملونه به وګوري چې کړي يې دي، او کله چې خپل کيڼ لور ته وګوري، نو يوازې هغه بد کارونه به وګوري چې وړاندې يې کړي دي، او کله چې خپل مخامخ لورې ته وګوري، نو له اور پرته به بل څه نه ويني، او نه به شي کولای چې لار ترې چپه کړي، ځکه چې مخامخا به د صراط په پله تېرېږي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د خپل ځان او اور تر منځه په صدقې او نيک عمل سره يوه پرده وګرځوئ، که څه هم ډېر لږ شی وي لکه: نيمه خرما.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6615

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee